
بسم الله الرحمن الرحيم

**مصر له فلسطين سره خپل ميراثي خيانت ته دوام ورکوي**



**خبر:**

*د روان کال د جنوري په شپږمه، نيوراک ټايمز ورځپاڼې د (( غږيز ريکارډونه ښيي چې د مصر مشران د بيت المقدس خوځښت په پټه خوله مني))  تر سرليک لاندې يوه مقاله خپره کړه. په ياده مقاله کې ويل شوي دي چې کله د مصر دولت د ټولو په مخ کې د ولسمشر ټرمپ په هغه اعلان انتقاد وکړ چې تېره مياشت يې وويل چې امريکا به بيت المقدس د اسرايلو د پلازمېنې په توګه وپېژني، د مصر هېواد يوه استخباراتي افسر په هېواد کې دننه  له څو پېژندل شوو ټلويزيوني خپرونو چلوونکو څخه غوښتي وو چې مصريان دې ته وهڅوي چې د ټرمپ دغه پرېکړه ومني. ورځپاڼې ويلي چې داسې غږيز ريکارډونه  يې تر لاسه کړې چې پکې کپتان اشرف الخولي، هماغه استخباراتي افسر ، ټلوېزيوني خپرونو چلوونکو ته وايي چې مصر، کټ مټ « عربي ورونه، دغه موضوع غندي» خو «  دا خبره به رينبتيا شي. فلسطينيان مقاومت نشي کولای او موږ نه غواړو چې جګړه وکړو. لکه څنګه چې پوهېږئ خپلې ستونزې مو ډېرې دي»* افسر خولي د ټلويزيوني خپرونو چلوونکو ته دا هم وايي چې فلسطين بايد د بيت المقدس پر سر جګړه پرېږدي او ځان د رام الـله د لويديځ بانک ښارګوټي په ښارګوټي راضي کړي چې اوس د فلسطين دولت په واک کې دی. ده زياته کړه (( د بيت المقدس او رام الـله توپير څه دی؟)) او (( پرېښودل اړين دي او که موږ بيت المقدس پرېږدو، بيت المقدس به وي – رام الـله به د فلسطين پلازمېنه شي، جګړه به ختمه شي او څوک به نه وژل کېږي،نو موږ بايد دا کار وکړو.)) د نيوراک ټايمز په وينا، خولي د بيت المقدس په اړه د امريکا د پرېکړې پر وړاندې غبرګون «خطرناک» او «يو خوځښت» وباله او ويې ويل چې خوځښت به د مصر د ملي امنيت ګټې خوندي نه کړي ځکه چې د خوځښت په پايله کې اسلامپال او حماس را ولاړېږي.)) ( سرچينه :nytimes.com )

**تبصره:**

د فلسطین له سپېڅلې خاورې سره د مصر سیکولر رژیم میراثي خیانت ټولو ته ښه ثابت شوی دی. په هر حال، نن د مصر د قاتل دېکتاتور او د امریکا تربیه شوي سپي، عبدالفتاح السیسي تر مشرۍ لاندې دغه خیانت یو بل پړاو ته لاړ. د نیتن ترال، چې په بیت المقدس کې د نړیوالو ناورینونو د ډلې (ICG) یو لوی تحلیلګر دی، په خبره، د یوې غیرې دولتي ادارې تحقیق ښودلې ده چې «د مصر او اسراییلو اړیکي نن داسې ځای ته رسیدلې، چې په تاریخ کې یې ساری نه لیدل کېږي» دغه موضوع په سیمه کې ډېری سیاسي شنونکو تایید کړې، دوی وایي چې دا لومړی ځل دي چې د مصر دولت او یهودي اشغالګر په ځو لسزیزو کې دومره نژدې اړیکې لري، په ځانګړې توګه په امنیتي او نظامي برخه کې، دوی په ګډه په غزه او د مصر په سینا دښته کې د وسلوالو ډلو پر وړاندې ګډ فعالیتونه کوي.

رسنیو دا خبر هم خپور کړی چې اسراییلو د مصر د دولت په همکارۍ، په سینا دښته کې د بې پیلوټه الوتکو بریدونه هم کړي. د سیسي تر مشرۍ لاندې د یهودو تروریستي ښکېلاک سره د مصري چارواکو جرمي دسیسې په غزه کې مسلمانان له منځه وړي، له یهودو سره د ټرانګې په محاصره کې د رفاح د لارې په بندلو کې مرسته کوي، له دې امله په غزه کې زموږ مسلمان ورونه او خویندې د ژوند لومړنیو اړتیاوو لکه د سونګ توکو، خوراکي توکو، درملو او د درملنې لپاره اساسي توکو ته لاسرسي نه لري، همدارنګه له ظالمو ښکېلاکګرو سره د فلسطین د کاناليزيسيون په له منځه وړلو کې د مصر د دولت همکاري هم ښه څرګنده ده. د بلومبرګ رسنیو له نظره دواړه دولتونه خپلې اړیکې لا هم نیږدې کوي چې د ګازو د ځو مېلیونو په ارزښت پروژه تر لاسه کړي او همدارنګه د ۲۰۱۶م کال د مې په میاشت کې د سیسي دولت مصري ښوونځیو ته د «د عربي نړۍ جغرافیه او د مصر عصري تاریخ» په نوم یو نوی کتاب معرفي کړ. په یاد کتاب کې یهودو ته د خورا نیږدې ملګري په سترګه کتل شوي او د یهودو د مجرم رژیم سره یې پر سوله ډېر ټینګار کړی. په دغه کتاب کې همدارنګه له یهودو سره د جګړې تاریخ چې په ۳۲ پاڼو کې تشریح کېده، اوس په ۱۲ پاڼو کې تشریح شوی. پر دې سربېره د مصر د نهم ټولګي زده کوونکي باید د یهودو او مصر تر منځ د ۱۹۷۹ کال د سولې معاهدې یادې کړي.

محمد سلیمان، چې د قاهرې یو سیاسي شنونکي دي د مصر او یهودي ښکېلاګرو تر منځ اړیکې یې «دوه اړخیزه ملګرتیا، ډیپلوماتیکې کړنې او نه شلېدونکې اړیکې» وبللې، په داسې حال کې چې ولید المدلال د غزې د اسلامي پوهنتون د سیاسي علومو رییس، الجزیرې ته وویل چې پرته له دې چې دغه اړیکې په نظر کې ونیسو، ده ته دا نه ده روښانه چې «مصر به څنګه وکولای شي چې په یهودو فشار راوړي چې د فلسطینیانو حقونه ورکړي» د دې په ځای «داسې ښکاري چې مصر به په فلسطینیانو نور فشار هم راوړي چې خپلې غوښتنې پرېږدي ترڅو یهودیان خپلو موخو ته ورسیږي.»

ټول پوهیږو چې د خلافت له را پرځېدو وروسته، له فلسطین سره یوازې د مصر سیکولر دولت نه، بلکې د اسلامي خاورو ټولو حاکمانو او رژیمونو خیانت کړی. دوی یوازې تش په خوله پر قدس او د دغه خاورې پر اهمیت خبرې کوي، پر دې سربېره اسلامي دولتونه له یهودي ښکېلاکګرو سره مرسته کوي چې د فلسطین ښکیلاک لا ځواکمن شي. په حقیقت کې، دوی یهودو ته د لویې شتمنۍ او قوي دفاعي ځواک په توګه په درد خوړلي. لکه څنګه چې، د ټرمپ له اعلان څو ورځې مخکې د سعودي شهزاده محمد بن سلمان په یوه ځانګړي پیغام کې د فلسطین ولسمشر محمود عباس ته ویلي وو چې د دولت په اړه دا نظر ومني

چې دولت یې باید د بیت المقدس په ختیځ کې پلازمینه ونه لري. په حقیقت کې د ۲۰۱۷م کال د سپټیمبر په میاشت کې د یهودو مشر نتنیاهو د بهرنیو چارو وزارت کې په یو غونډه کې وویل چې لومړی ځل دی چې د یهودو ښکېلاک په تاریخ کې د عربي دولتونو سره دومره نژدې اړیکې لري.

د یو امت په توګه موږ باید دغو خاینو رژیمونو ته د پای ټکی کیږدو او ژر تر ژره  پر نبوي منهج خلافت تاسیس کړو، چې د تل لپاره به دغه سپېڅلې خاوره ازاده کړي او د اسلام تر واکمنۍ لاندې به یې راولي او قدس به د مسلمانانو د دولت پلازمېنه وګرځوي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ډاکټر نسرین نواز**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو د څانګې مشره**